# د افغانستان اسلامي امارت

## د اوبو او انرژي وزارت

### د دفتر عمومي ریاست

### د مصوباتو آمریت

### د مصوباتو د تعقیب عمومي مدیریت

مهم:
محرم:
عاجل: (ص)

نېټه: ۲۹/۳/۱۴۴۷

ګڼه: ۸۱۵ / ۵۳۹

بسم الله الرحمن الرحيم

**د کور او ښار جوړلو محترم وزارت ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته؛

**موضوع: د ا.ا.ا د اقتصادي درانه کمیسیون د (۱۴۴۶) کال د (۱۳) ګڼې مصوبې د (۸) بند پرېکړې د تحقق په موخه د تخنیکي او باصلاحیته استازي د معرفي په اړه؛**

څرنګه چې تاسو په جریان کې یاست؛ د ا.ا.ا د اقتصادي درانه کمیسیون د (۱۴۴۶) کال د (۱۳) ګڼې مصوبې (۸) بند کې داسې پرېکړه شوي ده:

**« داقتصادي کمېسیون د (۱۴۴۵) هـ.ق کال (۱۵) ګڼې مصوبې (۴) بند پرېکړې دتحقق اوتایید شویو وراندیزونو پلي کولو په تړاو دکجکي بند لپاره دتاکل شوي پلاوي توحیدي راپور تایید دی.**

**دکجکي بند دویم فاز په استملاک شویو ساحو کې دمیشتو خلکو دتخلیې اوبیا مېشتېدنې په اړه دې دکور اوښارجوړولو وزارت دکرنې، اوبولګولو او مالداری او داوبو او انرژۍ وزارتونو په همغږۍ د هلمند ولایت په امارتي ځمکو کې دیو معیاري ښارګوټي تفصیلی پلان جوړ او دمنظورۍ لپاره دې له اړوند مقاماتو سره شریک کړي.»**

بناءً د پورته ذکر شوې پرېکړې د تحقق په موخه هیله کېږي خپل تخنیکي او باصلاحیته استازي دې وزارت ته را معرفي کړئ ترڅو یې په هکله لازم اجرآت ترسره شي. والسلام

قید وارده: ۱۴۱۸ ع
۱۴۴۷/۳/۳۰

**الحاج ملا عبداللطیف «منصور»**
**د اوبو او انرژي وزیر**

**کاپي:**

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ محترم وزارت ته؛
د کورنیو چارو وزارت (لومړي محترم معاونیت) ته؛
د احصایې او معلوماتو محترمې ملي ادارې ته؛
د ا.ا.ا د ریاست الوزراء اقتصادي محترم معاونیت ته (د اطمینان په موخه)؛
د ا.ا.ا د چارو اداري محترم لوی ریاست ته (د اطمینان په موخه)؛
د اوبو محترم معینیت ته؛
د اوبو پروژو د کیفیت او کنترول محترم ریاست ته؛

Tel: 0202526047 Web: www.mew.gov.af Email: chiefofstaff.mew.1443@gmail.com Fb: www.facebook.com/MEW.af Twitter: twitter.com/MEW_afghan